# خدايه څۀ شو هغه ښکلي ښکلي خلق

## د باچا خان او خان عبدالولي خان تلينونه

رپورټ: قاضي حضورالله




جنوري د باچا خان او خان عبدالولي خان د وفات مياشت ده. سږکال هم لکه د نور کله د دواړو مشرانو تلينونه په ټوله پښتونخوا، افغانستان او نورو پښتون ميشتو ملکونو کښې ونمانځلے شول. په دې سلسله کښې تر ټولو لويه او مرکزي غونډه د پېښور په نشترهال کښې د جنورۍ په پنځۀ ويشتمه نېټه د اتوار په ورځ د ميا مشتاق د صدارت لاندې په ډېر جوش و جذبه او درناوي وشوه چې د پارټۍ د صوبائي او مرکزي مشرانو نه علاوه پکښې زرګونو غړو ګډون وکړو.

په کوهاټ کښې د ضلعي صدر عنايت قريشي، هنګو کښې د ضلعي صدر پير حېدرعلي شاه، کرک کښې د تعليم خان ايډوکېټ، بنو کښې د اسرائيل خان، شانګله کښې د حاجی سېد فرين، نوښار کښې د اسرار خټک، لکي مروت کښې د صدرالدين مروت، مردان کښې د حاجي رحمت ګل، دير پائين کښې د حاجي بهادر خان، دير بالا کښې د سېد انور خان، ټانک کښې د خان ګل بېټني، ډي آئي خان کښې د شهاب خان ايډوکېټ، ايبټ آباد، هري پور، بټګرام، کوهستان او مانسهرې په شريکه ايبټ آباد کښې د باچا خان او خان عبدالولي خان تلينونه د عوامي نېشنل پارټۍ د صوبائي جائنټ سيکټر ملک نويد د صدارت لاندې په عزت او احترام سره ولمانځلې شوه چې پکښې د پارټۍ مرکزي، صوبائي، ضلعي مشرانو او د پارټۍ کارکنانو په ګڼ شمېر کښې ګډون وکړو او خپلو درنو مشرانو ته ئې د عقيدت ګلونه وړاندې کړل.



د پېښور په نشترهال کښې د پېښور ضلعې او پېښور ښار د سېوري لاندې د باچا خان او خان عبدالولي خان د کليزې دستوري غونډې ته د عوامي نېشنل پارټۍ مرکزي صدر اسفنديار ولي خان، د عوامي نېشنل پارټۍ صوبائي صدر افراسياب خټک، صوبائي ستر سيکټر تاج الدين خان، د عوامي نېشنل پارټۍ پخوانۍ صوبائي صدرې بېګم نسيم ولي خان، د پېښور ضلعې صدر ميا مشتاق احمد او د عوامي نېشنل پارټۍ پېښور ښار صدر ملک غلام مصطفٰي نه علاوه د پارټۍ نورو درنو مشرانو وېناګانې وکړې او په خپلو وېناګانو کښې ئې باچا خان او خان عبدالولي خان ته د پښتون قام په خدمت، د آزادۍ په جدوجهد او قربانو د مينې او خلوص نه ډکې پېرزوئنې وړاندې کړې او د هغوي په ژوند او جدوجهد ئې رڼا واچوله.

د عوامي نېشنل پارټۍ مرکزي صدر اسفنديار ولي خان د تلينونو دستورې ته په خپله وېنا کښې ووې چې:

"ټول سياسي ګوندونه دې د آئين د نوي سر نه جائزه واخلي، زمونږ پارټي به د اوولسم ترميم د ختمولو سره سره د هر هغه آئيني پېکېج مرسته کوي چې زمونږ تجويزونه پکښې شامل وي.

جنګ د مسئلو حل نۀ دے، مونږ په خپله خاوره امن غواړو، مونږ د هغه خلقو سره هم خبرو اترو ته تيار يُو چې په ما ئې خودکُش حمله کړې وه خو کۀ هغوي وسله وغورځوي او د افهام او تفهيم او خبرو اترو لاره غوره کړي. د دې سيمې د سوکالۍ او د پښتنو د قتل عام ودرولو او ختمولو دپاره زۀ د خپل ژوند قربانۍ ورکولو ته هم تيار يم.

اسفنديار ولي خان د باچا خان او خان عبدالولي خان د سياست او مبارزې په حواله ووئيل چې:

"نن دنيا منلې ده چې په دنيا کښې امن صرف د باچا خان د عدم تشدد د فلسفې په ذريعه قائمېدے شي."

هغۀ ووئيل چې: "دا وخت مونږ د دوو مسئلو سره مخ يُو. يوه بد امني ده چې حل ئې د باچا خان په فلسفه عدم تشدد کښې دے. دوېمه مسئله د صوبائي خودمختارۍ ده چې د هغې دپاره د خان عبدالولي خان د قربانيو نه انکار نۀ شي کېدے.

هغۀ زياته کړه چې نن سبا په آئين کښې د بدلونونو کومه هوا رالوتې ده، حقيقت دا دے چې په آئين کښې هره ورځ بدلون نۀ شي کېدے نو ځکه

ټولو سياسي ګوندونو ته د اوولسم ترميم سره سره د آئين په ټولو شقونو دوباره نظر اچول پکار دي، ځکه چې آئين داسې پکار دے چې د ټول وطن او قوم په مفادو کښې وي.

هغۀ عسکريت خوښو ته اپيل وکړو چې تشدد د هېڅ يوې مسئلې حل نۀ دے. راځئ چې په شريکه کښېنو او د دې مسئلې حل راوباسو، ځکه چې د پښتنو وينه ډېره وبهېده."

اسفنديارولي خان ووئيل: "چې د پُر امن افغانستان نه بغېر پاکستان په امن کښې نۀ شي پاتې کېدے او د پُر امن پاکستان نه بغېر هندوستان په امن کښې نۀ شي پاتې کېدے. دا د ټولو شريکه مسئله ده."

هغۀ د پښتونخوا نوم په حواله د صدر آصف زرداري د ګرين سګنل مننه وکړه او وې وئيل چې کۀ چاته په پښتونخوا اعتراض وي نو مونږ د چودري رحمت علي تجويز کړي نوم افغانيه ته هم تيار يُو.

هغۀ دا هم ووئيل چې حقيقي وفاق هله جوړېدے شي چې ټولو صوبو ته په خپلو خپلو



وسائلو پوره پوره اختيار ورکړے شي، تر څو چې پنجاب ته پاکستان او پاکستان ته پنجاب وئيلے کېږي، دا ملک ترقي نۀ شي کولے.

د عوامي نېشنل پارټۍ صوبائي صدر افراسياب خټک په خپله وېنا کښې ووئيل چې" د



اتلسمې فرورۍ د عامو ټولټاکنو کاميابۍ نه پس پښتنو ثابته کړه چې هغوی ترهګري او تشدد نۀ خوښوي خو د پښتنو دښمنان يوه ډله شوي دي او زمونږه پښتنه سيمه ئې په وينو کښې ډوبه کړې ده."

دوی ووئيل چې" نن پښتنو ته د دې خبرې سزا ورکولے شي چې هغوی په خپله خاوره امن غواړي او د خپلې خاورې د بچ کولو کوشش کوي."

دوی ووئيل چې څنګه مونږ په ماضي کښې د چنګېز خان، سکندر اعظم، بابر، تېمور او انګرېز مقابله په نرتوب او بهادرۍ سره کړې وه نو دغه شان به د دې مقابله هم کوو او انشاءالله دوی له به ماتې ورکوو."

د عوامي نېشنل پارټۍ پخوانۍ صوبائي صدرې محترمې مېرمن نسيم ولي خان د کلېزې دستورې ته په خپله وېنا کښې

ووي چې" د يو سازش لاندې د پښتون دښمنان لګيا
دي د پښتنو د بدنامولو کوشش کوي او خپلو کښې
ئې د يو بل دښمنان جوړ کړي دي او يو په بل ئې
وژني.

دوي په خپله وينا کښې ووې چې "دا وخت د
جوش نۀ دے د همت او حوصلې نه کار اخستل



پکار دي او خپل دښمنان پېژندل پکار دي، سوچ
پکار دے چې نن مونږ ته په پښتونخوا صوبه کښې
کوم حالات پېښ دي او مونږ د کوم سازش ښکار
يُو، دا کومو طاقتونو شروع کړي دي، د دې په شا د
چا لاس دے؟ چې د هغې په وجه نن صرف په
سوات، وزيرستان او د صوبې په نورو ضلعو او
قبائلي سيمو کښې اور بل دے او پښتانۀ بې ځايه
سوځي او بدنام کېږي. دوي ووئيل چې افغانستان
نه چې کوم اور زمونږ صوبه کښې خور شوے دے،
د دې نه به پنجاب او د ملک نورې علاقې هم بچ
پاتې نۀ شي. دوي خپله وينا کښې ووئيل چې کوم
خلق د دهشت ګردو په نامه يادېږي، زمونږ هغه
خلقو ته هم اپيل دے چې دوي خپل ګرېوان کښې
وګوري چې دوي د غېرو په وينا خپل قوم په خپله
تباه کوي."

دوي ووئيل چې " په وزيرستان، سوات او د
ملک په نورو سيمو کښې د امن بحال کولو د پاره د
باچا خان او رهبر تحريک خان عبدالولي خان د عدم
تشدد فلسفه خپلول پکا ردي.

مونږ امن ځکه غواړو چې د باچا خان د
عدم تشدد د فلسفې پېروکار يُو. د پارټۍ ټولو
کارکنانو ته اپيل کوم چې د باچا خان او رهبر
تحريک خان عبدالولي خان پېغام کور کور او
کلي کلي ته ورسوي.

د کليزې دستورې ته حاجي غلام احمد
بلور، تاج الدين خان، ميا مشتاق احمد، ملک
غلام مصطفي او نورو د پارټۍ مرکزي،
صوبائي او ضلعي مشرانو هم وېناګانې وکړې.

د پښتونخوا صوبې په نورو ضلعو کوهاټ،
کرک، بنو، ډېره اسمعيل خان، لکي مروت، نوښار،
مردان چارسده او د صوبې په نورو ضلعو کښې هم
د باچا خان او رهبر تحريک خان عبدالولي خان د
تلينونو د دستورې په لړ کښې درنې غونډې وشوې
چې ورته ميا افتخار حسېن، بشير احمد بلور،
سېدعاقل شاه، سردار حسېن بابک، ملک نويد د
عوامي نېشنل پارټۍ د مرکزي او صوبائي کابينې
غړو او مقامي ضلعي مشرانو وېناګانې وکړې او د
خپلو درنو مشرانو په ژوند، جدوجهد او قربانو ئې
رڼا واچوله.

دوي په خپله وينا کښې ووئيل چې پښتنې
خاورې ته د باچا خان بابا په صورت کښې د يو
داسې لويې هستۍ د پېدا کولو اعزاز حاصل دے

چې هغه درويش هم ؤ او د خپل وخت دانا هم ؤ، هغوي د خپلې پښتنې خاورې سره ډېر محبت او مينه لرله او د خپلې خاورې د حفاظت او پښتون قام د خوشحالۍ سوکالۍ او حقوقو ګټلو دپاره ئې ټول عمر تکليفونه او مصيبتونه برداشت کړل او کۀ چرې هغه غوښتلے نو ټول عمر ئې د عېش و عشرت د سکون او آرام ژوند تېرولے شو. ولې چې هغه يو جاګيرداره کورنۍ کښې زېږېدلے ؤ خو د خپلې پښتنې خاورې او قام له خاطره ئې هر څيز پرېښودو او په هغه خلقو کښې شامل شو چې هغوي ته دوه وخته ډوډۍ په سختۍ سره ملاوېدله خو د سر پټېدو دپاره ئې چت نۀ ؤ. يو طرف ته د خانانو د ظلم ښکار وو او بل طرف ته غېر ملکي استعماري طاقتونو د هغوي د بدن نه غوښې شوکولې او وينه ئې ترې څښله. په داسې وخت کښې باچا خان يو تاريخي کردار ادا کړو او دې مصيبت کښې نښتي خلق ئې راپورته کړل او دوي ته ئې دا احساس ورکړو چې کوم ژوند پښتون قام تېروي هغه اصل ژوند نۀ دے.

دوي ووئيل چې "باچا خان د مظلومې طبقې او پښتون قام د هر قسم حالاتو د مقابلې کولو دپاره تيار کړل او دوي ئې اصل ژوند تېرولو دپاره په سوچ مجبور کړل. دوي ئې د عمل په لار روان کړل او د نۀ ستړي کېدونکي جدوجهد کولو دپاره ئې تيار کړل".

دوي خپله وينا کښې ووئيل چې "باچا خان په وخت کښې د تعليم څۀ خاص رواج نۀ ؤ، باچا خان د پښتونخوا په زمکه د مدرسو او مکتبونو بندوبست وکړو او تقريباً سل 100 داسې مرکزونه ئې پرانستل چې په هغې کښې به د پښتون قام بچو د تعليم او علم زدکړه کوله".

دوي ووئيل چې" د تعليمي ادارو حفاظت کول او هغې ته په دروند نظر کتل پکار دي خو نن د تشدد خوښو په لاسونو تعليمي ادارې تباه کېږي چې ډېر د افسوس او شرم خبره ده."

دوي ووئيل چې" يو خوا ته اسلام د علم حاصلول په هر مسلمان ښځې او نارينه فرض ګڼي او بله خوا د ماشومانو جينکو د تعليم په حاصلولو



شدت پسنده بندېزونه لګوي او د هغوي تعليمي ادارې په بمونو الوزوي. دا خلق د دين او اسلام کوم خدمت کوي؟. د دوي مقصدونه څۀ دي او دا خلق د چا په اشارو دا کارونه کوي چې په ټوله نړۍ کښې د مسلمانانو او اسلام دپاره د بدنامۍ سبب جوړېږي".

دوي ولي خان بابا ته هم د عقيدت پېرزوئنې وړاندې کړې او وې وئيل چې رهبر تحريک خان عبدالولي خان خپل ټول ژوند د خپل پلار فخر افغان باچا خان په شان د عدم تشدد او د پښتنو د حقونو د حاصلولو دپاره تېر کړو، د هغوي د ژوند زياته برخه په جېلونو کښې تېره شوه خو هغوي کله

هم په اصولو سودا ونهٔ کړه او هم دغه وجه ده چې د
رهبر تحریک خدمات نهٔ هېرېدونکي دي او کله چې
هم په ملک کښې د جمهوریت خبره کېږي نو د ولي
خان بابا د خدماتو اعتراف به لازمي کېږي.